کلینیکي نښې نښانې.......... 322
حاد مسمومیت.......... 322
مزمن مسمومیت(Chronic Poisoning) .......... 325
معمولاً وژونکې دوز.......... 327
تشخیص.......... 327
درملنه .......... 328
د کوکاین د حاد مسمومیت درملنه.......... 328
د مزمن مسمومیت درملنه .......... 332
د مړینې وروسته د جسد معاینه(Autopsy Features) .......... 334
ټولنیزې او عدلي موضوعګانې(Medicosocial and Forensic Issues) .......... 334
د بدن دننه د نشه‌یي موادو د بسته‌بندۍ سنډروم(Bodypacker Syndrome) .......... 335
درملنه .......... 335

ketabton.com - The Digital Library

## درېیمه برخه

### لومړی څپرکی

### حیواني او بیولوژیکي زهرونه


د زهري ژوو له خوا چیچل او نیښ وهل Venomous Bites and Stings ..... 341
ماران(Snakes) ..... 341
اپیدیمولوژي ..... 342
د مارچیچلو نړیوال روغتیایي اهمیت ..... 343
د مارانو په اړه اسلامي او شرعي لارښوونې ..... 344
مارچیچل (Snake bite) ..... 344
د مار د زهر اجزا ..... 346
د مارچیچلو کلینیکي نښې او علایم ..... 348
د مارچیچلو د مسمومیت درجې ..... 348
درملنه ..... 348
د لړم چیچل(Scorpion Stings) ..... 352
د لړم څخه د ځان ژغورنې په اړه اسلامي لارښوونه ..... 353
د لړم چیچلو نښې او علایم ..... 353
درملنه ..... 353


### دوېیم څپرکی

### افت وژونکي(Pesticides)


تاریخچه ..... 356
د افت وژونکو روغتیایي اهمیت او اړونده مخینه ..... 357
کیمیاوي کنټرول ..... 358
افت وژونکي ..... 358
د یوه مطلوب افت وژونکي ځانګړتیاوې ..... 358
هغه عوامل چې په حشراتو کې د مسمومیت په رامنځته کېدو اغېز لري ..... 359
هغه عوامل چې د افت وژونکي پر اغېزمنتیا اغېز لري ..... 359
د افت وژونکو له امله د مسمومیت ډولونه ..... 361
حاد مسمومیت ..... 361
مزمن مسمومیت ..... 361
افت وژونکي(Pesticides) ..... 361
د افت وژونکو طبقه بندي ..... 361
الف ـ د استعمال د موخې پر بنسټ طبقه بندي ..... 361
حشره وژونکي(Insecticides) ..... 362
ارګانوفاسفیټونه (Organophosphorus Compounds،Organophosphates ) ..... 362
فزیکي بڼه(Physical Appearance) ..... 362
معمول وژونکې اندازه(Usual Fatal Dose) ..... 364
د زهریت درجه(Toxicity Rating) ..... 364

ketabton.com - The Digital Library


د تأثير ميکانيزم(Mode of Action) ........ 364
د توکسيکوکينيتيک پراوToxicokinetics ........ 365
کلينيکي (زهري) څرگندونې(Clinical Toxic Features) ........ 365
حاد مسموميت(Acute Poisoning) ........ 365
.مزمن مسموميت(Chronic Poisoning) ........ 369
تشخيص(Diagnosis) ........ 369
درملنه(Treatment) ........ 371
کاربامیتونه(Carbamates) ........ 376
د زهريت درجه(Toxicity Rating) ........ 376
د اغېز ميکانيزم او کلينيکي څرگندونې(Mode of Action and Clinical Features) ........ 376
تشخيص(Diagnosis) ........ 377
درملنه(Treatment) ........ 378
اورگانوکلورينونه(Organochlorines) ........ 378
ظاهري بڼه(Physical Appearance) ........ 379
کارونه(Uses) ........ 379
معمول وژونکې اندازه(Usual Fatal Dose) ........ 379
د زهريت درجه(Toxicity Rating) ........ 379
توکسيکوکينيتيک Toxicokinetics ........ 379
د تأثير ميکانيزم(Mode of Action) ........ 380
کلينيکي څرگندونې(Clinical Features) ........ 381
تشخيص(Diagnosis) ........ 382
درملنه(Treatment) ........ 382
پيرېترينونه او پيرېترايډونه(Pyrethrins and Pyrethroids) ........ 384
کاروونه(Uses) ........ 384
معمول وژونکې اندازه(Usual Fatal Dose) ........ 384
د پيريتروئيدونو تأثير ميکانيزم(Mode of Action) ........ 384
کلينيکي څرگندونې(Clinical Features) ........ 385
تشخيص(Diagnosis) ........ 386
درملنه(Treatment) ........ 386
د هرزه بوټو وژونکي مواد(Herbicides / Weedicides) ........ 387
پيرېکواټ او ډای‌کواټ(Paraquat and Diquat) ........ 388
زهري‌کينټيک(Toxicokinetics) ........ 388
د اغېز ميکانيزم(Mode of Action) ........ 388
معمول وژونکې اندازه(Usual Fatal Dose) ........ 389
کلينيکي څرگندونې(Clinical Features) ........ 389
تشخيص(Diagnosis) ........ 390
درملنه(Treatment) ........ 391

ketabton.com - The Digital Library

د مړینې وروسته موندنې(Autopsy Features)....392
د موږک وژنکو توکو مسمومیت(Rodenticide toxicity)....393
سریزه (پیژندنه)....393
ایتیولوژي (د ناروغۍ لامل پیژندنه)....393
ایپیدیمیولوژي (د ناروغۍ د خپرېدو پیژندنه)....393
پتوفزیولوژي (د ناروغۍ فزیولوژیکي بدلونونه)....394
تاریخچه او فزیکي معاینه....401
ارزونه(Evaluation)....401
درملنه / مدیریت(Treatment / Management)....403
لومړنۍ پاملرنه(Initial Care)....403
ځانګړې طبي درملنه(Specific Medical Treatment)....403
تفریقي تشخیص(Differential Diagnosis)....404
پروګنوز / عاقبت(Prognosis)....404
اختلاطات(Complications)....404
مشورې(Consultations)....404
مخنیوی او د ناروغ تعلیم(Deterrence and Patient Education)....405
عدلي مسایل (د ټولو افت وژونکو په اړه)....405

## دریم څپرکی

## درانه فلزات او مسمومیتونه یې

سریزه(Introduction)....409
ارسینیک(Arsenic)....411
سریزه(Introduction)....411
تاریخچه(History)....411
د ارسینیک کارونې او سرچینې(Uses/Sources)....412
ظاهري بڼه(Physical Appearance)....413
معمول وژونکې اندازه(Usual Fatal Dose)....414
زهرجن‌حرکت او د عمل میکانیزم(Toxicokinetics and Mode of Action)....414
کلینیکي نښې او علایم(Clinical Features)....414
تشخیص(Diagnosis)....415
درملنه(Treatment)....417
سرب یا سرپ(Lead)....418
تاریخچه(History)....418
فزیکي بڼه او استعمالونه(Physical Appearance and Uses)....419
د سربو د مسمومیت سرچینې او د جذب کچه....420
معمول وژونکې اندازه(Usual Fatal Dose)....420
توکسیکوکینیتیک(Toxicokinetics)....421
د عمل میکانیزم(Mode of Action)....421

ketabton.com - The Digital Library


د سرب د منلو وړ تماس او د وينې کچه....... 422
کلینیکي نښې او علایم(Clinical Features) ....... 422
تشخيص(Diagnosis) ....... 424
د سرب لپاره لابراتواري ازموينې (Laboratory Tests for Lead)....... 424
وينه(Blood) ....... 424
ادرار(Urine) ....... 426
هډوکي(Bone) ....... 427
درملنه ....... 427
د جسد د مړينې وروسته معاينې موندنې(Autopsy Features) ....... 430
عدلي موضوعات(Forensic Issues) ....... 430
سيماب(Mercury) ....... 432
د سيمابو او دهغې د مرکباتو کارونه(Uses of Mercury Compounds) ....... 433
د ککړتيا او مسموميت سرچينې(Sources of Exposure) ....... 433
معمولاً وژونکی مقدار(Usual Fatal Dose) ....... 434
ټوکسيکوکينيتيکس(Toxicokinetics) ....... 434
کلينيکي نښې نښانې....... 434
الف. د عنصري سيماب او غيرعضوي سيمابي مالگو مسموميت....... 434
حاد مسموميت....... 434
مزمن مسموميت(Hydrargyrism) ....... 436
ب. د عضوي سيمابي مرکباتو مسموميت....... 437
تشخيص(Diagnosis) ....... 439
درملنه(Treatment) ....... 439
الف. حاد مسموميت(Acute poisoning)....... 439
فلزي سيماب او غيرعضوي سيمابي مرکبات....... 439
عضوي سيمابي مرکبات(Organic mercurials)....... 440
ب. مزمن مسموميت(Chronic Poisoning) ....... 440
اوسپنه(Iron)....... 441
درمليز اوسپنيز محصولات....... 442
پتوفزيولوژي....... 444
د اوسپنې سرچينې او کاروونه....... 444
معمولي وژونکی دوز(Usual Fatal Dose) ....... 445
کلينيکي نښې او علايم(Clinical Features) ....... 446
تشخيص(Diagnosis) ....... 448
درملنه(Treatment) ....... 449
د جسد د معاينې موندنې(Autopsy Features) ....... 452
عدلي طب موضوعات(Forensic Issues) ....... 452
مس (Copper)....... 453

ketabton.com - The Digital Library

د مسو فزیکي بڼه(Physical Appearance)........ 453
د مسو کارونه(Uses)........ 453
معمول وژونکی مقدار (Usual Fatal Dose)........ 454
زهري‌حرکات(Toxicokinetics)........ 454
کلینیکي نښې او علایم(Clinical Features)........ 455
تشخیص(Diagnosis)........ 456
درملنه(Treatment)........ 457
د مړینې وروسته موندنې(Autopsy Features)........ 459
عدلي طب اړخونه(Forensic Issues)........ 459

**خلورم څپرکی**

**د زهرجنو ګازونو مسمومیتونه**

زهري ګازونه........ 461
ساده خفه کوونکي ګازونه........ 461
کاربن ډای اکساید($CO_2$)........ 461
کاروونه........ 461
کلینیکي نښې........ 461
تشخیص........ 462
درملنه........ 462
د الفاتیک هایدروکاربن ګازونه(Aliphatic Hydrocarbon Gases)........ 463
تنفسي تحریکي ګازونه(Respiratory Irritants)........ 464
امونیا(Ammonia)........ 464
فزیکي بڼه(Physical Appearance)........ 464
کارونې(Uses)........ 464
کلینیکي نښې(Clinical Features)........ 464
معمول وژونکی مقدار(Usual Fatal Dose)........ 465
تشخیص(Diagnosis)........ 465
درملنه(Treatment)........ 466
فورمالډیهاید(Formaldehyde)........ 467
مترادف نومونه(Synonyms)........ 467
فزیکي بڼه(Physical Appearance)........ 467
کارونې او سرچینې(Uses and Sources)........ 467
د تأثیر میکانیزم(Mode of Action)........ 468
کلینیکي نښې(Clinical Features)........ 468
حاد مسمومیت(Acute Poisoning)........ 468
مزمن مسمومیت(Chronic Poisoning)........ 468
معمول وژونکی مقدار(Usual Fatal Dose)........ 469
تشخیص(Diagnosis)........ 469

ketabton.com - The Digital Library

درملنه(Treatment) ........ 470
فوسجین(Phosgene) ........ 471
مترادف نومونه (Synonyms) ........ 471
فزیکي بڼه(Physical Appearance) ........ 471
کاروونې او سرچینې(Uses and Sources) ........ 471
معمول وژونکی مقدار(Usual Fatal Dose) ........ 471
د عمل میکانیزم(Mode of Action) ........ 471
کلینیکي نښې(Clinical Features) ........ 472
تشخیص(Diagnosis) ........ 472
درملنه(Treatment) ........ 473
سیستمیک خفه کوونکي(Systemic Asphyxiants) ........ 474
کاربن مونو اکساید(Carbon Monoxide) ........ 474
مترادف نومونه(Synonyms) ........ 474
فزیکي بڼه(Physical Appearance) ........ 474
سرچینې(Sources) ........ 474
معمول وژونکی مقدار(Usual Fatal Dose) ........ 474
توکسیکوکینټیکس(Toxicokinetics) ........ 474
د عمل میکانیزم(Mode of Action) ........ 474
کلینیکي نښې(Clinical Features) ........ 475
د تشخیص لنډیز(Diagnosis Summary) ........ 478
درملنه(Treatment) ........ 481
سیانایډ(Cyanide) ........ 484
د سیانایډ فزیکي بڼه(Physical Appearance) ........ 484
د سیانایډ کاروونې(Uses) ........ 484
د سیانایډ سرچینې(Sources) ........ 485
معمول وژونکي دوزه ........ 486
توکسیکوکینټیک ........ 486
د تأثیر میکانیزم ........ 486
کلینیکي نښې ........ 487
مزمن مسمومیت ........ 488
تشخیص ........ 489
درملنه ........ 490
عدلي او جنایي مسایل(Forensic Issues) ........ 494
لوگی(Smoke) ........ 495
تشخیص(Diagnosis) ........ 495
درملنه(Treatment) ........ 496

ketabton.com - The Digital Library

# سریزه

کلینیکي او چاپېریالي زهرپوهنه د معاصرو طبي او روغتیایي علومو له مهمو او کثیرالرشتوي څانګو څخه ده چې د فارماکولوژی، داخلي طب، بېړني طب، لابراتواري علومو او چاپېریالي علومو له بېلابېلو برخو سره نږدې اړیکه لري. دا علم د هغو پردیو موادو (Xenobiotics) د زیانمنو اغېزو مطالعه کوي چې د انسان او نورو ژوندي موجوداتو بدن ته داخلېږي او د حجرو، نسجونو، غړو او حیاتي سیستمونو د فعالیت د ګډوډۍ او په پایله کې د مسمومیت سبب ګرځي.

د انسان د ژوند، روغتیا او بدن ساتنه یوازې د معاصر طبابت موضوع نه ده، بلکې په اسلامي لارښوونو کې هم د انسان د ژوند او روغتیا د ارزښت لپاره څرګند بنسټونه موجود دي. په قرآن کریم هم الله ج انسان ته د خپل ځان او نورو د وژلو او زیان رسولو څخه د ډډې کولو لارښوونه کوي او فرمایي : (**وَلَا تَقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا**)؛ یعنې: او خپل ځانونه مه وژنئ، بېشکه الله پر تاسو ډېر مهربان دی). (النساء: ۲۹). دغه آیت که څه هم په خپل اصلي سیاق کې د ځان او یو بل د وژلو د منعې په اړه دی، خو د انسان د ژوند د حرمت او د قصدي ځان وژنې د منعې یو څرګند شرعي اصل بیانوي. له همدې امله، قصدي ځان مسمومول، د زهري موادو په وسیله ځان وژنې ته اقدام کول او یا د بل انسان د وژلو او زیان رسولو لپاره د زهرو استعمال د اسلامي اخلاقو او شرعي اصولو له مخې د منلو وړ نه دی.

اسلام د انسان ژوند داسې ارزښتمن ګڼي چې د هغه د ساتنې موضوع د شریعت له مهمو عمومي مقاصدو سره تړاو پیدا کوي. قرآن کریم د بني اسرائیلو په اړه د ژوند د ارزښت په بیان کې فرمایي: (**مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا**)؛ یعنې: چا چې یو انسان پرته له دې چې هغه د بل انسان د وژلو په بدل کې وي یا په ځمکه کې د فساد له امله وي، ووژه؛ داسې ده لکه ټول انسانان یې چې وژلي وي، او چا چې د یوه انسان ژوند وژغوره؛ داسې ده لکه د ټولو انسانانو ژوند یې چې ژغورلی وي. (المائدة: ۳۲). د آیت اصلي حکم د بني اسرائیلو په اړه بیان شوی، خو د انسان د ژوند د ستر ارزښت مفهوم په کې په څرګند ډول بیان شوی دی. له همدې امله د مسموم ناروغ د ژوند ژغورنه، د زهري عواملو مخنیوی، د مسمومیت د ژر تشخیص هڅه او د مناسبې درملنې ترسره کول د روغتیایي علومو له مهمو انساني موخو سره بشپړ تړاو لري.

په روغتونونو او په ځانګړي ډول د بېړنیو خدمتونو په څانګو کې مسمومیتونه له هغو پېچلو طبي حالتونو څخه دي چې د ناروغ د ژر ارزونې، د حیاتي دندو د سمدستي ثبات او د مناسبې درملنې غوښتنه کوي. مسمومیتونه کېدای شي د درملو د زیات استعمال، د کیمیاوي موادو د تماس، د چاپېریالي ککړتیا، مسلکي تماس، تصادفي پېښو او یا قصدي استعمال له امله رامنځته شي. په دې حالتونو کې د ناروغ د ژوند د ژغورنې لپاره د لومړنیو حیاتي دندو ارزونه او ثبات، د مسمومیت د احتمالي عامل پېژندنه، د مناسبې کلینیکي تاریخچې اخیستل، فزیکي معاینه، اړینې لابراتواري ارزونې او د زهري سنډرومونو (Toxidromes) پېژندنه ځانګړې اهمیت لري. د اړتیا په صورت کې د زهر د جذب د کمولو، د زهرجن عامل د اغېزو د خنثی کولو، د بدن څخه د هغه د اطراح د زیاتولو او د ځانګړو ضد زهرو یا انټيډوټونو (Antidotes) پر وخت کارول کولای شي د ناروغ د جدي اختلاطاتو، دایمي معلولیت او مړینې خطر راکم کړي.

د اسلام له نظره هم د ضرر مخنیوی او د انسان د ژوند ساتنه له مهمو اخلاقي او فقهي اصولو څخه ده. له ابو سعید الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:(**لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ، مَنْ ضَارَّ ضَرَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ شَاقَّ شَقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ**[1]). نه ضرر رامنځته کول شته او نه بل چاته ضرر رسول، چا چې بل ته ضرر ورساوه نو الله تعالی به هغه ته ضرر ورسوي، او چا چې په نورو سختي وکړه الله تعالی به پرې سختي راولي. د اسلامي فقهې له مشهورو قواعدو څخه د ( **لا ضرر ولا ضرار** ) اصل ترې اخستل شوی دی. د مسمومیتونو په ساحه کې دغه اصل د زهري موادو د قصدي استعمال، د نورو انسانانو د مسمومولو، د خطرناکو کیمیاوي موادو د بې احتیاطه استعمال او د داسې چاپېریالي یا مسلکي شرایطو د رامنځته کولو پر وړاندې یو مهم اخلاقي بنسټ وړاندې کوي چې د انسان روغتیا ته د ضرر سبب کېږي.

همدارنګه قرآن کریم کې الله ج فرمایي:( **وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ**)؛ یعنې خپل ځانونه په خپلو لاسونو هلاکت ته مه اچوئ. (البقرة: ۱۹۵). د دې آیت د نزول او اصلي سیاق په اړه په تفسیري منابعو کې ځانګړي بحثونه شته او آیت باید یوازې د مسمومیت په اړه ځانګړی نص ونه ګڼل شي؛ خو د هلاکت او ځان ته د زیان د نه رسولو عمومي معنا یې د روغتیا ساتنې له اسلامي اخلاقو سره مناسبه اړیکه لري.

د مسمومیتونو د درملنې او د طبي مداخلې مشروعیت هم د اسلامي لارښوونو له عمومي اصولو سره تړاو لري. له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي : (**لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ، فَإِذَا أُصِيبَ دَوَاءُ الدَّاءِ بَرَأَ بِإِذْنِ اللَّهِ**)؛ یعنې د هرې ناروغۍ لپاره درمل شته؛ کله چې د ناروغۍ لپاره مناسب درمل وموندل شي، د الله په اجازه ناروغ روغېږي. (صحیح مسلم: ۲۲۰۱).

[1] د شواهدو په اعتبار صحیح دی - الدار قطني روایت کړی دی - سنن الدار قطني – 3079 ، همدا راز دا حدیث په موطأ امام مالک او نورو حدیثي منابعو کې هم روایت شوی دی

رسول الله ﷺ همدارنګه د درملنې د غوښتلو لاربښوونه کړې ده : (**عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابَهُ كَأَنَّمَا عَلَى رُؤُوسِهِمُ الطَّيْرُ، فَسَلَّمْتُ ثُمَّ قَعَدْتُ، فَجَاءَ الْأَعْرَابُ مِنْ هَهُنَا وَهَهُنَا، فَقَالُوا :يَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَتَدَاوَى؟ فَقَالَ« :تَدَاوَوْا، فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ دَوَاءً غَيْرَ دَاءٍ وَاحِدٍ الْهَرَمُ** ). ژباړه: له اسامه بن شريک رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي: زه رسول الله ﷺ او د هغه صحابه‌وو ته ورغلم، داسې چوپتيا پرې حاکمه وه لکه د هغوی پر سرونو چې مرغان ناست وي. ما سلام وکړ او بيا کښېناستم. له دې خوا او هغې خوا څخه ځينې صحرايي عرب راغلل او ويې ويل: اې د الله رسوله ﷺ! آيا موږ درملنه وکړو؟» رسول الله ﷺ وفرمايل« :**درملنه کوئ؛ ځکه الله عزوجل هېڅ داسې ناروغي نه ده پيدا کړې، مګر دا چې د هغې لپاره يې درملنه هم پيدا کړې ده، پرته له يوې ناروغۍ؛ چې هغه هغه زړښت (بوډاتوب) دی)** .أبو داود، السنن، كتاب الطب، حديث 3855؛ الترمذي، السنن، كتاب الطب، حديث 2038. په دې روايت کې د ناروغۍ لپاره د درملنې اختيارول د اسلامي طبابت له مهمو لاربښوونو څخه ګڼل شوی دی. له همدې امله د مسموميت په صورت کې روغتون ته مراجعه، د مسموم شخص کلينيکي ارزونه، لابراتواري تشخيص، حمايوي درملنه، د زهر د جذب کمول، د زهري موادو د اطراح زياتول او د مناسبو Antidotes استعمال د علمي درملنې له مشروعو لارو څخه دي او د توکل خلاف نه ګڼل کېږي؛ بلکې د اسبابو اختيارول او د الله تعالی څخه د شفا غوښتل دواړه سره يوځای کېدای شي.

د رسول الله ﷺ په مبارک سيرت او نبوي احاديثو کې د مسموميت يوه څرګنده او مستنده تاريخي پېښه ثبت شوې ده، چې د اسلامي تاريخ په منابعو کې د زهري موادو د قصدي استعمال يوه مهمه بېلګه ګڼل کيږي. دا پېښه ښيي چې مسموميت د انسانانو په ټولنيز او تاريخي ژوند کې له پخوا څخه يوه جدي مسئله وه. له دې پېښې څخه د مسموميت د پېژندنې، د قصدي مسمومولو د خطر او د انسان د ژوند د ساتنې د اهميت په اړه تاريخي، طبي او اخلاقي درسونه اخيستل کېدای شي. دا پېښه په صحيح البخاري او نورو معتبرو کتابونو کې په تفصيل سره راغلې ده.

په صحيح البخاري کې دا پېښه د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه داسې روايت شوې ده :(**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: لَمَّا فُتِحَتْ خَيْبَرُ أُهْدِيَتْ لِلنَّبِيِّ ﷺ شَاةٌ فِيهَا سُمٌّ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: "اجْمَعُوا لِي مَنْ كَانَ هَا هُنَا مِنْ يَهُودَ"، فَجُمِعُوا لَهُ... فَقَالَ لَهُمْ: "هَلْ جَعَلْتُمْ فِي هَذِهِ الشَّاةِ سُمًّا؟" قَالُوا: نَعَمْ. قَالَ: "مَا حَمَلَكُمْ عَلَى ذَلِكَ؟" قَالُوا: أَرَدْنَا إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا نَسْتَرِيحُ، وَإِنْ كُنْتَ نَبِيًّا لَمْ يَضُرَّكَ**). (صحيح البخاري، رقم الحديث: ٣١٦٩). د دې حديث شريف پښتو ژباړه داسې ده: له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه فرمايي: کله چې خيبر فتحه شو، رسول الله ﷺ ته يو پسه (پخه شوې غوښه) په هديه کې ورکړل شوه چې زهر پکې ګډ شوي وو. رسول الله ﷺ وفرمايل: په دې سيمه کې چې څومره يهوديان شته، زما په وړاندې يې راټول کړئ. نو هغوی راټول کړای شول... رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايا تاسو په دې پسه کې زهر ګډ کړي وو؟ هغوی وويل: هو. رسول الله ﷺ ترې وپوښتل: د دې کار کولو ته څه شي مجبور کړلئ؟ هغوی وويل: موږ غوښتل که چيرې ته درواغجن يې، نو موږ به درڅخه هوسا شو، او که رښتينی پېغمبر يې، نو دا زهر به تاته هېڅ زيان ونه رسوي».

له دې تاريخي غميزې څخه لومړی اخيستل شوی درس د بيولوژيکي او کيمياوي خطرونو لرغونوالی دی؛ دا پېښه ثابتوي چې د زهري توکو قصدي کارول (کوم چې نن د بيولوژيکي او کيمياوي ترور په بڼه پېژندل کيږي) يو پخوانی تاريخ لري او انسانانو تل د خپلو اهدافو لپاره له داسې وژونکو لارو چارو کار اخيستی دی. دويم درس د خوړو خونديتوب (Food Safety) او وقايه ده؛ کله چې رسول الله ﷺ له هغې غوښې څخه لومړی ګوله واخيسته، سمدستي يې درک کړه چې غوښه مسمومه ده او له خوړلو يې لاس واخيست، دا چاره په اوسني طب کې د مشکوکو او خطري توکو له مصرف څخه د ځان ساتنې بنسټيز اهميت راښيي.

دريم مهم درس په زهر پوهنه (Toxicology) کې د زهرو د اغېزې تدريجي پاتې شونې دي؛ سره له دې چې رسول الله ﷺ هغه غوښه تيره نه کړه بلکې د ستوني په برخې کې يې زهري اثرات حس کړل ، او بيرته يې هغه ګوله و غورځوله. خو د زهرو جزئي پاتې شونې د هغه په مبارک بدن کې پاتې شوې او هغې اغېزې د ژوند تر آخره وخت په وخت حس کېدې، چې دا د ځينو زهرو اوږدمهاله او خطرناکې اغېزې ثابتوي. څلورم درس اخلاقي اړخ او د بښنې لوړ مقام دی؛ په صحيح مسلم کې له حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې يوه يهودی ښځه رسول الله ﷺ ته مسمومه غوښه راوړه. رسول الله ﷺ له هغې څخه وخوړل، وروسته چې د زهر اغېز څرګند شو، نو د دغې دسيسې کونکې ښځې (زينب بنت الحارث) جرم ثابت شو هغه ښځه يې راوغوښته او ترې يې پوښتنه وکړه. هغې وويل چې ما غوښتل تا ووژنم. صحابه‌وو رضي الله عنهم د هغې د وژلو اجازه وغوښته، خو رسول الله ﷺ وفرمايل« :لَا»؛ «نه.» ، رسول الله ﷺ په شخصي توګه هغې ته بښنه وکړه او غچ يې ترې وانخيست، که څه هم وروسته کله چې صحابي بشر بن البراء رضي الله عنه د دغې غوښې د خوړلو له امله شهيد شو، نو دغه ښځه د عدالت د پلي کېدو او قصاص په خاطر ووژل شوه. دا پېښه په صحيح البخاري کې په ۳۱٦۹ او ۴۲۴۹ نمبرونو او په صحيح مسلم کې په ۲۱۹۰ نمبر سره ثبت ده.

اسلام د علم، پوهې، تحقيق او د ستونزو د علمي حل لپاره د فکر او تدبر ارزښت هم لوړ ګڼي. قرآن کريم کې الله ج فرمايي :(**فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ**)؛ يعنې که تاسو نه پوهېږئ، د پوهې له خاوندانو څخه پوښتنه وکړئ. (النحل: ۴۳). د طبي علومو په ساحه کې دا اصل د تخصص اهميت ته اشاره کوي؛ يعنې د ناروغۍ، مسموميت، درملنې او تشخيص په مسايلو کې بايد له متخصصو او مسلکي کسانو څخه استفاده

ketabton.com - The Digital Library

وشي. د مسموم ناروغ په مدیریت کې د Toxicologist، Emergency Physician، Pharmacist، Laboratory Scientist، Nurse او نورو اړوندو مسلکي کسانو ګډ کار د همدې تخصصي اصل له عملي بڼو څخه دی.

په روغتونونو او په ځانګړې ډول د بیړنیو خدمتونو په څانګو کې مسمومیتونه له هغو پېچلو طبي حالتونو څخه دي چې د ناروغ د ژر ارزونې، د حیاتي دندو د سمدستي ثبات او د مناسبې درملنې غوښتنه کوي. مسمومیتونه کېدای شي د درملو د زیات استعمال، د کیمیاوي موادو د تماس، د چاپېریالي ککړتیا، مسلکي تماس، تصادفي پېښو او یا قصدي استعمال له امله رامنځته شي. په دې حالتونو کې د ناروغ د ژوند د ژغورنې لپاره د لومړنیو حیاتي دندو ارزونه او ثبات، د مسمومیت د احتمالي عامل پېژندنه، د مناسبې کلینیکي تاریخچې اخیستل، فزیکي معاینه، اړینې لابراتواري ارزونې او د زهري سنډرومونو (Toxidromes) پېژندنه ځانګړې اهمیت لري. د اړتیا په صورت کې د زهر د جذب د کمولو، د زهرجن عامل د اغېزو د خنثی کولو، د بدن څخه د هغه د اطراح د زیاتولو او د ځانګړو ضد زهرو یا انټيډوټونو (Antidotes) پر وخت کارول کولای شي د ناروغ د جدي اختلاطاتو، دایمي معلولیت او مړینې خطر راکم کړي.

د مسمومیتونو د مدیریت په برخه کې د اسلامي اخلاقو له مخې د روغتیایي مسلکي کس مسؤلیت یوازې د تخنیکي درملنې تر ترسره کولو محدود نه دی. د ناروغ د کرامت ساتنه، د هغه د ژوند د ژغورلو هڅه، د مسلکي امانتدارۍ مراعات، د ناروغ د محرمیت ساتنه، د بې ضرورته ضرر مخنیوی او د علمي شواهدو پر بنسټ د درملنې انتخاب د روغتیایي مسلک له مهمو اخلاقي مسؤلیتونو څخه دي. د «لا ضرر ولا ضرار» اصل په دې برخه کې د روغتیایي مسلکي اخلاقو لپاره ځانګړې اهمیت لري.

په همدې توګه، د مسمومیتونو مخنیوی د درملنې تر څنګ ځانګړې اهمیت لري. د درملو د سمې اندازې استعمال، د زهري کیمیاوي موادو خوندي ساتنه، د ماشومانو له لاسرسي څخه د درملو او کیمیاوي موادو ساتل، په مسلکي چاپېریال کې د شخصي محافظتي وسایلو استعمال، د حشره وژونکو د خوندي استعمال اصول، د خوړو او اوبو د ککړتیا مخنیوی او د چاپېریالي زهري عواملو کنټرول هغه اقدامات دي چې د مسمومیتونو د پېښو د کمولو لپاره ضروري دي. د اسلام عمومي اخلاقي اصل چې انسان ته د خپل ځان او نورو د ضرر رسولو مخه نیسي، د داسې وقایوي تدابیرو له روحیې سره همغږی دی.

په همدې اساس دا ژباړل شوی اثر د کلینیکي او چاپېریالي زهرپوهنې په برخه کې د یوې علمي او تدریسي سرچینې په توګه وړاندې کېږي. د موضوعاتو د اسانه درک او منظمې زده کړې لپاره مطالب په داسې ترتیب تنظیم شوي چې لوستونکی له بنسټیزو توکسیکولوژیکو مفاهیمو څخه په تدریجي ډول د مسمومیتونو د کلینیکي ارزونې، تشخیص او درملنې تر عملي اصولو پورې رهبري کړي.

په لومړۍ برخه او لومړي څپرکي کې د کلینیکي زهرپوهنې اساسات او د مسموم شوي ناروغ د کلینیکي ارزونې او مدیریت بنسټیز اصول بیان شوي دي.

همدارنګه، په دې څپرکي کې د مسموم شوي ناروغ د کلینیکي ارزونې او مدیریت بنسټیز اصول په منظم ډول تشریح شوي دي. په دې برخه کې د ناروغ لومړنۍ ارزونه، د حیاتي دندو ثبات، د ABC اصول، د کلینیکي تاریخچې اخیستل، فزیکي معاینه، اړینې تشخیصي ازموینې او د زهري سنډرومونو (Toxidromes) پېژندنه بیان شوې ده. همدارنګه د زهر د جذب د مخنیوي، د حمایوي درملنې او په مناسبو مواردو کې د زهرجنو موادو د اطراح د زیاتولو مهم اصول هم تشریح شوي دي.

په دې برخه کې د ABC اصول یوازې یو کلینیکي پروتوکول نه دی؛ بلکې د مسموم ناروغ د ژوند د ژغورنې لپاره د بیړنۍ طب یو اساسي بنسټ دی. د هوایي لارې ساتنه، د تنفس ارزونه او ملاتړ، د دوران ثبات او د حیاتي دندو دوامداره څارنه باید د هر ځانګړي زهر له پېژندلو مخکې لومړیتوب ولري. په همدې دلیل، د Toxicology زده کوونکي باید لومړی د ناروغ د ژوند ژغورونکي اقدامات په سمه توګه زده کړي او وروسته د ځانګړي زهري عامل تشخیص او ځانګړې درملنه ترسره کړي.

د مسموم شوي ناروغ د درملنې په برخه کې د «درملنه وکړئ» نبوي لارښوونه د طبي مداخلې له عمومي اسلامي اصل سره همغږي لري. خو د درملنې انتخاب باید د علمي شواهدو، د ناروغ د حالت، د زهر د ځانګړتیاوو او د مسلکي معیارونو پر بنسټ وي. هره دودیزه یا غیرثابته طریقه یوازې د دې لپاره چې د پخوانیو خلکو ترمنځ استعمال شوې، د عصري مسمومیت د درملنې بدیل نه شي کېدای. د نبوي لارښوونو د درناوي تر څنګ د طبي تخصص او معاصرې تجربوي پوهې مراعات هم ضروري دي.

په دویمه برخه کې د بېلابېلو درملو او درملیزو ډلو اړوند مسمومیتونه تر بحث لاندې نیول شوي دي. د درملو د زیات ډوز (Overdose) له امله رامنځته کېدونکي حاد مسمومیتونه، د هغوی توکسیکوډینامیک، کلینیکي مظاهر، اړینې تشخیصي ارزونې، احتمالي اختلاطات او د درملنې اصول په علمي او کلینیکي ترتیب سره وړاندې شوي دي. په هغو مواردو کې چې مشخص ضد زهر یا انټيډوټ موجود وي، د هغه د استعمال اصول او اړوند مهمې درملیزې لارې هم تشریح شوي دي.

د درملو د استعمال په برخه کې د اسلام عمومي اصل دا دی چې انسان باید خپل ځان ته ضرر ونه رسوي او د درملنې لپاره باید د مناسبې او مشروعې لارې هڅه وکړي. له همدې امله د درملو سم دوز، د درملو د تداخلاتو پېژندنه، د ناروغ د عمر، وزن، د پښتورګو او ځیګر د فعالیت او نورو

ketabton.com - The Digital Library

کلینیکي شرایطو په پام کې نیول د مسمومیت د مخنیوي مهمې برخې دي. په ځانګړې ډول د درملو د Overdose په برخه کې د درمل جوړونکي او نورو روغتیایي مسلکي کسانو مسؤلیت ډېر مهم دی، ځکه د یوې کوچنۍ محاسبوي یا درملیزې تېروتنې پایله هم د جدي مسمومیت سبب کېدای شي.

دریمه برخه د بېلابېلو بیولوژیکي، کیمیاوي او چاپېریالي زهري عواملو اړوند موضوعات رانغاړي. په دې برخه کې د مهمو بیولوژیکي زهري توکو، کیمیاوي زهري موادو، درنو فلزاتو، حشره‌وژونکو او نورو چاپېریالي زهري عواملو د تماس لارې، توکسیکوډینامیک، کلینیکي مظاهر، تشخیص او د درملنې بنسټیز اصول بیان شوي دي. د هرې موضوع په وړاندې کولو کې هڅه شوې چې د زهري عامل د پېژندنې ترڅنګ، د ناروغ د عملي مدیریت لپاره اړین کلینیکي معلومات په روښانه، منظم او علمي ډول وړاندې شوي دي.

چاپېریالي زهرپوهنه په ځانګړې ډول د انسان او چاپېریال ترمنځ د اړیکې له امله اهمیت لري. د هوا، اوبو، خوړو، خاورې، درنو فلزاتو، حشره وژونکو، صنعتي کیمیاوي موادو او نورو زهري عواملو ککړتیا یوازې د یوه فرد روغتیا نه اغېزمنوي، بلکې د ټولنې د روغتیا لپاره پراخې پایلې لرلای شي. له همدې امله د Toxicology زده کړه باید یوازې د ناروغ د درملنې په کچه محدوده نه وي؛ بلکې د مسمومیتونو د سرچینو پېژندنه، د خطر ارزونه، وقایه، عامه پوهاوی او د چاپېریالي خطرونو کمول هم پکې شامل وي.

د دې اثر اساسي موخه یوازې د زهرجنو موادو د ځانګړتیاوو بیانول نه دي؛ بلکې هڅه شوې چې لوستونکي ته د مسموم ناروغ د علمي ارزونې، د خطر د کچې د معلومولو، د ژوند ژغورونکو لومړنیو اقداماتو، د مناسبې درملنې د انتخاب او د احتمالي اختلاطاتو د مخنیوي لپاره اړین بنسټیز او کلینیکي معلومات وړاندې شي. هیله ده چې دا اثر د فارمسي، طب، نرسنګ او د روغتیایي علومو د نورو څانګو د استادانو، محصلینو او روغتیایي مسلکي کسانو لپاره یوه ګټوره علمي او تدریسي سرچینه وګرځي او په پښتو ژبه د کلینیکي زهرپوهنې د معیاري علمي مطالبو په پراختیا کې خپل اغېزمن رول ولوبوي.

په پای کې، د دې اثر اساسي روحیه د علم او امانتدارۍ پر دوو بنسټونو ولاړه ده :د علمي حقیقت لټون او د انسان د ژوند او روغتیا ساتنه .اسلامي لارښوونې انسان د پوهې، تدبر او د متخصصینو څخه د پوښتنې لورې ته رابولي، او طبي علوم د همدې هڅې عملي وسیلې برابروي. له همدې امله د کلینیکي زهرپوهنې زده کړه یوازې د زهري موادو د نومونو، نښو او درملو حفظ کول نه دي؛ بلکې د ناروغ د ژوند د ژغورلو، د ضرر د مخنیوي، د علمي مسؤلیت د ادا کولو او د روغتیایي خدمتونو د کیفیت د لوړولو یوه مهمه برخه ده. د رسول الله ﷺ دا لارښوونه چې (**تَدَاوَوْا عِبَادَ اللَّه**)، او دا نبوي اصل چې (**لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ**)، د طبي زده کړې، څېړنې او درملنې لپاره د هڅې له عمومي اسلامي روحیې سره ژوره اړیکه لري.

له همدې امله تمه ده چې دا اثر به د کلینیکي او چاپېریالي زهرپوهنې د معاصرو علمي اصولو تر څنګ د اسلامي ارزښتونو، د انساني ژوند د حرمت، د ضرر د مخنیوي، د درملنې د مشروعیت او د علمي امانتدارۍ روحیه هم لوستونکو ته وړاندې کړي، څو د فارمسي او نورو روغتیایي علومو محصلین وکولای شي د مسمومیتونو د پېژندنې، مخنیوي، تشخیص او درملنې په برخه کې نه یوازې علمي وړتیا، بلکې مسلکي او اخلاقي مسؤلیت هم په سمه توګه درک کړي.

په درنښت

پوهنیار مولانا ضیاءالاسلام محمدي

د فارمسي پوهنځی د عمومي څانګې کادري غړی

کندهار پوهنتون

فارمسي پوهنځی

کندهار، افغانستان

۱۴۰۵ ل کال

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*